# پیاوړی کس - په غېږ نیولو کې - چپه کوونکی ندی، بلکې پیاوړی هغه دی چې د غصې پر مهال خپل ځان کنټرول کړي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «پیاوړی کس - په غېږ نیولو کې - چپه کوونکی ندی، بلکې پیاوړی هغه دی چې د غصې پر مهال خپل ځان کنټرول کړي».
[صحيح] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي چې اصلي ځواک د بدن ځواکمني نده او نه هغه ځواکمن دی چې نور قوي کسان راچپه کړي، بلکې غښتلی او پیاوړی - انسان - هغه ځوک دی چې د خپل نفس په وړاندې مبارزه وکړي او د سختې غصې په وخت کې يې کنټرول کړي، ځکه چې دا د دې په خپل ځان د پوره ځواک او په شيطان د غالبېدو دليل دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5351

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee